سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۸/۱۲

# د قربانۍ اختر

د قربانی دا اختر دی د نړی ټولو مسلمانانو او د اخترونو نه بی برخی افغانانو ته مبارک شی.هیله ده چی په دی اختر کی د حیواناتو په ځای د انسانانو نه قربانی وا نخستله شی.

ښوک به حیوان حلالوی او قربانی به کوی
ښوک بـه انسان حلالوی او قربانی به کوی
ښوک به جانان ته رسوی ځان د خپل سر په بیه
ښوک به جانان حلالـوی او قربانی به کوی
ښوک به ایمان غواړی د ځان او هم د بل دپاره
ښوک به ایمان حلالوی او قربانی به کوی
چاته به خپل وجدان د هرڅه نه اوچت ښکاری
ښوک به وجدان حلالوی او قربانی به کوی

*** *** ***

ښوک به کعبی ته ځی د خدای د رضایت د پاره
ښوک به د سیل د پاره ځی ښوک تجارت د پاره
ښوک به آرزو لـری چی و وینی اصول د اسلام
ښوک به ورځی لا د کوم بل منافقت د پاره
چا به اخستی وظیفه وی د شیطان له دفتر
ښوک به ماموروی د کوم بل لوی رذالت د پاره
ښوک به وهلو جیبو دپاره تللی وی تردی مکانه
ښوک به وی تللی خاص دخدای د عبادت د پاره

*** *** ***

اوس به تمیز ښنګه کوو د چا او چا په منځ کی؟

د را خوری توری تیاری او د رڼا به منځ کی؟

مونـږه ورکړی قربـانـی ده د پیړیو پیړیو

ډیر زوریدلی یو اختره! د دنیا په منځ کی

نـوره له مونـږ قربانی مه اخله آرام راشه

د غضب وریځی خوری نکړی د هوا په منځ کی

که راغلی مه ځه له دی کلی له دی ولس اختره

څو د نفاق ریښی شی وچی، پښتونخوا په منځ کی

*** *** ***

هیله مو داده که راځی نو لږ خوشحال راشه

پاک او ســاده لکه د کلی کلیوال راشه

اګست/۲۰۱۹/۸

تورنتو ــ کاناډا

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!